ورځپانه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
سه‌شنبه د ربیع الاول ۲۵ مه ۱٤٤٥ ق کال | د تلې ۱۸ مه ۱۴۰۲ ل کال | د اکتوبر ۱۰ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۴۵ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۳۵ مه ،اتمه‌دوره

# د هرات زلزله ځپلو سره تر اوسه ۳۱۲ میلیونه افغانۍ مرستې اعلان شوي

د هرات د خونړۍ پېښې له قربانیانو سره د مرستې په موخه تر دې مهاله په کور دننه بېلابېلو سوداګرو او افغان حکومت نږدې ۳۱۲ میلیونه افغانۍ مرستې اعلان کړې دي. د عزیزي ګروپ مشر میرویس عزیزي د هرات پېښې په اړه پر ژورې خواشینۍ سربېره د دې پېښې له قربانیانو سره ۲۰۰ میلیونه افغانۍ مرسته اعلان کړې ده. نوموړي پر خپلې ټویټر پاڼه لیکلي، چې نن دوشنبه یې یو استازي هرات ولایت ته سفر کوي او هلته د مرستو لړۍ پیلوي. بله خوا د رئیس الوزرا له دفتره په خپره شوې خبر پاڼه کې راغلي، چې دوی یو ګډ کمېسیون ټاکلي او د پېښې له قربانیانو سره ۱۰۰ میلیونه افغانۍ مرسته کوي. په ورته وخت کې د کام ایر هوایي شرکت هم د لس میلیونو افغانیو مرستې اعلان کړي او ویلي یې دي، چې ډېر ژر به دغه مرستې د هرات د پېښې قربانیانو ته ورسوي. په کابل، پکتیا، خوست، ننګرهار او یو شمېر نورو ولایاتو کې هم ګڼو ځوانانو د مرستې راټولولو ډلې جوړې کړي؛ خو تر اوسه د راټولو شویو مرستو اندازه نه ده معلومه.

## ایـــران:
# د سیمې هیوادونو کې د نا امنیو اصلي لاملونه د امریکا لاسوهنې دي

د افغانستان لپاره د ایران د ولسمشر ځانګړي استازي او په کابل کې د یاد هیواد سفیر حسن کاظمي قمي، چې پرون یې په کابل کې افغانستان کې د وروستۍ زلزلې له کبله د خواخوږي د شریکولو ترڅنګ وویل ،چې د ایران حکومت د یوه امن او خپلواک افغانستان غوښتونکی دی او دا د ټولې سیمې په ګټه بولي.قمي زیاته کړه، چې د ایران د ژغورنې ډلې او د ژوندیو قربانیانو د پیدا کولو تعلیمي سپي سیمې ته رسېدلي دي او له افغان لوري سره یو ځای تر



د یوې خبرې غونډې په ترڅ کې د خبریالانو پوښتنې ځوابولې، په خاورو لاندې د پاتې کسانو په ژغورلو بوخت دي، همدارنګه خوراکي توکي او د لومړنیو مرستو کېټونه به ژر سیمې ته ورسېږي او د ایران حکومت د هرات له زلزله ځپلیو سره د مرستې په موخه په هرات ښار او زنده جان ولسوالۍ کې ګرځنده روغتیایي مرکزونه جوړوي.نوموړي د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل ،چې پر اسرائیلي اشغالګرو د حماس بریدونه په خپل ډول کې بې ساري دي او دا په ډاګه کوي، چې اسرائیل به د فلسطین د اشغال شوم هدف ته ونه رسېږي او په وینا یې دا په وروستیو کلونو کې مسجد الاقصا ته د اسرائیلو د مکرر سپکاوي ځواب دی.ده پر امریکا هم توندې نیوکې وکړې او **۵مخ**

# په لومړي ځل د پامیر خلکو ته روغتیایي مرکز پرانیستل شو

د بدخشان ولایت د واخان ولسوالۍ په کوچني پامیر سیمه کې یو معیاري روغتیایي مرکز جوړ او د عامې روغتیا وزارت د



مالي او اداري معین محمد اسحاق صاحب زاده او د دې ولایت د یو شمېر نورو چارواکو له لوري ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.د دغه ولایت د عامې روغتیا رئیس قاري عتیق الله فیضي باختر آژانس ته وویل: دغه مرکز د چین د ۸۱ سلنې او د آقاخان بنسټ په ۱۹ سلنې ونډې سره د ۳۵۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت په کوچني پامیر سیمه کې په معیاري ډول جوړ شوی دی.فیضي زیاته کړه، دغه روغتیایي مرکز د افغانستان د اسلامي امارت د هلو ځلو په پایله کې جوړ شوی، چې ورسره به د کوچني پامیر د اوسېدونکو روغتیایي ستونزې هوارې شي. ده وویل: د افغانستان د اسلامي امارت له بریا وروسته د بدخشان د لرې پرتو**۵مخ**

# ملا خیرالله خیرخواه د عینو مېنې په ۳۵۰ بستریز روغتون کې د جامع جومات د بنسټ ډبره کېښوده

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه ورمه ورځ یو شمېر نورو مسئولینو سره یو ځای د کندهار د عینو مېنې ښارګوټي په ۳۵۰ بستریز روغتون کې د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کېښوده. په دې اړه جوړ و شویو مراسمو کې د ملا خیرالله خیرخواه ترڅنګ د کندهار د عامې روغتیا رئیس مولوي آدم، د ارشاد، حج او اوقافو رئیس شیخ مولوي عبدالبصیر فایز، د اقتصاد رئیس ملا عبدالسلام بریالي، ګڼ شمېر دیني عالمانو، سوداګرو، ډاکترانو، قومي



مخورو او ځوانانو ګډون کړی و.د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه په دغو مراسمو کې وویل، چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي د روغتیا په برخه کې ولس ته آسانتیاوې او غوره خدمتونه وړاندې کړي، څو درد ځپلي ولس مو ارام ترلاسه **۵مخ**

## د سوداګرۍ او پانګونې خونه :
# ایران دې افغان سوداګرو ته په چابهار بندر کې د پانګونې زمینه برابره کړي

د افغانستان لپاره د ایران د ولسمشر ځانګړي استازي کاظمي قمي او د ایران له خراسان ولایت څخه ترمنځ د اقتصادي اړیکو د لاپیاوړتیا په موخه ګډه غونډه وکړه.د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې



راغلي سوداګریز پلاوي پرون له افغان سوداګرو او پانګوالو سره د دواړو لوریو خونې مرستیال او سرپرست محمدیونس مومند په یاده غونډه کې ایراني **۵مخ**

# غم شریکی کشورهای جهان با مردم افغانستان

برخی کشورهای جهان، به‌خاطر زلزله روز شنبه در ولایت هرات که صدها کشته و زخمی بجا گذاشت، با مردم افغانستان غم‌شریکی کرده‌اند.وزارت‌های امور خارجه عربستان سعودی، قطر و ترکیه، با اعلام غم‌شریکی با مردم افغانستان برای کمک با آسیب دیدگان، اعلام آمادگی کرده‌اند.از سویی هم برخی کشورهای دیگر بشمول کویت، امارات متحده عربی، پاکستان، آذربایجان، ازبیکستان، آلمان، فنلند، ناروی، هالند، امریکا، کانادا، چین و جاپان نیز با افغان‌ها غم‌شریکی کرده‌اند.

گفتنی‌است که برخی نهادهای سازمان ملل متحد بشمول برنامه جهانی غذا و یونیسف، این زلزله را ویران‌گر خوانده و گفته‌اند که روند رسیدگی به آسیب دیدگان را آغاز کرده‌اند. ایران و پاکستان نیز با اظهار همدردی با مردم افغانستان به کمک و همکاری با زلزله‌زدگان هرات تعهد کردند.

# پکتیا کې د اوبو رسولو ۷ شبکې ګټې اخیستو ته وسپارل شوې

ځايي چارواکو د پکتیا ولایت په ۶ ولسوالیو کې د اوبو رسولو د ۷ شبکو د جوړېدو خبر ورکړې دی.د پکتیا د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس مولوي میرزا جان صادق وایي، چې یادې شبکې د ۹ میلیونه افغانیو په لګښت د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د کلیوالي پراختیایي شوراګانو له لوري پلې شوې دي.په ورته وخت کې د سویل ختیځ زون د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې د واش برخې مسئول انجنیر محمد رستم رحیمي وایي ،چې دغه شبکې په مرکز ګردېز، احمدابا، احمدخېلو، ځاځي اریوب، ځمکنیو او میرزکه ولسوالیو کې تطبیق شوې او سلګونه ځايي اوسېدونکو ته پکې د کار زمینه هم برابره شوې وه.د نوموړي په خبره د دغو شبکو پرمټ ۳ ښوونځیو، ۱۲ جوماتونو، ۲ روغتیایي مرکزونو او ۲۵۰۰ کورنیو ته د ښباک پاکې اوبه برابرې شوې دي.هېره دې نه وي، چې ځايي خلکو له باختر اژانس سره په خبرو کې د دغو شبکو د



جوړېدو له کبله خوښي څرګنده کړه او ویې ویل چې دې سره به د څښاک پاکو اوبو ته په اسانۍ لاسرسي ولري.

# د وردګو پوهنتون د احاطوي دېوال د رغولو چارې پیل شوې

د لوړو زده کړو وزارت سرپرست میدان وردګو ته د سفر په ترڅ کې د وردګو پوهنتون لپاره د ۴۰ میلیونو افغانیو په لګښت د احاطوي دېوال د جوړولو د چارو پرانیسته وکړه. د لوړ زده کړو سرپرست وزیر وویل، چې افغان حکومت په هیواد کې د لوړو زده کړو لپاره د هر ډول آسانتیاوو برابرولو او د پوهنتونونو د بیارغونې هڅې پیل شوې دي.

نوموړي زیاته کړه، چې د ټولو پوهنځیو لپاره د هیواد په کچه د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د یو عصري نصاب جوړولو لپاره کار روان دی. ده د پوهنتون استادانو څخه غوښتنه وکړه، چې په پوره اخلاص، صداقت او په اسلامي روحیه د هیواد بچیان وروزي.

## جـــاپـــان:
# د هرات پېښې قربانیانو سره بېړنۍ مرستې کوو

د جاپان د بهرنیو چارو او بېړنۍ مرستې وکړي. د



وزارت په هرات کې د وروستۍ پېښې له امله د ژورې خواشینۍ تر څنګ ویلي، چې هڅه کوي له زلزله ځپلو سره چټکې جاپان د بهرنیو چارو وزیرې یوکو کامیکاوا په یوې اعلامیې کې ویلي؛ جاپان چمتو دي چې د نړیوالو مرستندویو ادارو په مرستې په چټک ډول اړینې مرستې چمتو کړي. یوکو کامیکاوا زیاتوي، چې دا مهال د هرات زلزله ځپلي عاجلې مرستې ته اړتیا لري او دوی د خپلې همکارۍ په اساس کولي شي، چې اغېزمنو سیمو او خلکو ته عاجلې مرستې ورسوي. نوموړي دغه پېښه بوږنوونکې بللې او پر نورو مرسته کوونکو یې هم غږ کړي او یو ځل بیا یې د جاپان پر همکارۍ ټینګار کړي دي.

## سرلیکنه

### د زلزله ځپلو لاسنیوی؛ مشترک مسئولیت

د روانې اوونۍ په پیل کې هرات او ګاونډیو ولایتونو کې زوروره زلزله وشوه ، چې له امله یې زرګونو تنو ته مرګ ژوبله واوښته او ګڼ شمېر کلي په بشپړه توګه له منځه ولاړل.د افغانستان اسلامي امارت، نړیوالو خیریه بنسټونو او زموږ خیرغوښتونکو او با احساسو هېوادوالو ته په کارده، چې له مصیبت ځپلو کورنیو سره د مرستو لپاره له ټولو امکاناتو څخه استفاده وکړي. له زیانمنو شویو کسانو سره د مرستې څرنګوالی یوه اړینه مسئله ده، چې باید ورته رسېدنه وشي، که څه هم د اسلامي امارت اړوند مرستندوی بنسټونه او کاري ټیمونه د دغه ناورین په لومړیو ساعتونو کې لاس په کار شول او له ټولو امکاناتو څخه په استفادې یې له زلزله ځپلو سره د مرستې لپاره اړین اقدامات وکړل او د لومړنیو اړتیاوو په برخه کې یې لازمي هڅې وکړې؛ خو دا کافي نه دي او باید لا ډېر کار وشي تر څو د هېوادوالو دغه درد ته د خلکو په همغږۍ ځواب وویل شي.د اسلامي امارت له لوري د لا ډېرو مرستو او همکاریو ترڅنګ نړیوال خیریه بنسټونه هم باید په دغه سخت حالت کې بشري مرستې ونه سپموي. دغه راز شتمن هېوادوال هم باید خپله برخه مسئولیت ترسره کړي د هېواد په هر ولایت کې دې له زیانمنو سره د مرستې راټولولو کمپاین پیل شي، ترڅو د خلکو په مرسته د زیانمنو شویو هېوادوالو د دردونو درملنه وشي او د سوداګرو او شتمنو خلکو پام راواړول شي.د مرستو په جریان کې باید لومړیتوبونه په پام کې ونیول شي، مانا دا چې په لومړي قدم کې باید د پاکو اوبو، خوراکي توکو، درملو او بېړنۍ سرپناه غم وخوړل شي، ځکه په دغسې حالاتو کې پاکو اوبو، معیاري خوړو او درملو ته د نه لاسرسي له امله د یو لړ سختو او وبایي ناروغیو د خپرېدو امکانات هم ډېرېږي، چې یو بل ناورین له ځان سره راوړي. له دې وروسته باید اسلامي امارت او نړیوال بشري نهادونه په ګډه همغږۍ د زیانمنو کورنیو لپاره د اساسي سرپناه غم وخوري. اسلامي امارت باید هغو کورنیو ته چې د امکاناتو او د ځمکې د نښتون له امله تر خطر لاندې سیمو کې اوسېږي، په مناسب ځای کې د استوګنې امکانات برابر کړي.

# به مشکلات مهاجرین افغان در خارج از کشور باید توجه شود

مجتبی شکوری

مردم افغانستان حدود چهل و پنج سال می شود که با مشکلات هجرت به کشور های همسایه و جهان مواجه می باشند و برای رفع این مشکل،فرار از کشور را راه مناسب دانسته اند.طبق آمار بدست آمده از وزارت مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان در حدود هشت میلیون افغان مهاجر هستند که از جمله بیش از چهار میلیون آن در پاکستان و تقریباً چهار میلیون در ایران و سایر کشورهای جهان به سر می برند و شمار دیگر که تعداد شان به صد ها هزار تن می رسد در امریکا، استرالیا و کشورهای اروپایی به سر می‌برند و از این جمله تعداد محدودی توانسته اند که سند پناهنده گی در غرب و اروپا را بدست آوردند.بدون شک این مشکلات مردم افغانستان ناشی از جنگ های تحمیلی،اشغال کشور از سوی بیگانگان، فقر و بیکاری می باشد.این هموطنان مجبور و محتاج ما به هدف بدست آوردند یک مشت پول ناچیز با قبول درد،رنج،تحقیر،لت و کوب و زحمات فراوان به چنین مهاجرت هاتن می‌دهند. اگر زمینه مصروفیت کار و امنیت در داخل کشور برای آنان مساعد نگردد و برای مردم بی بضاعت ما مصروفیت ها ایجاد نشود،مشکلات فرار مردم ما به کشورهای همسایه و کشور های دیگر جهان رفع نخواهد شد.این در حالیست که دولت پاکستان در هفته گذشته ضرب الاجل یک ماهه را برای مهاجرین افغان برای خروج از این کشور صادر کرده و دفتر کمیساری سازمان ملل متحد در پاکستان مخالفت خود را با این طرح اعلام نمود.



قیصر خان افریدی سخنگوی کمیساری عالی پناهندگان (UNHCR)در پاکستان گفت:هر گونه بازگشت پناهجویان به وطنش باید به صورت داوطلبانه و بدون هیچگونه فشار و خشونتی انجام بگیرد.زیرا بازگشت مهاجرین باید تضمین حفظ جان،مال و زندگی شان باشد.

وی افزود:((ما گزارش های نگران کننده یی در مورد اخراج دسته جمعی مهاجرین غیر قانونی افغان از پاکستان شنیده ایم و از دولت این کشور می خواهیم تا در این رابطه شفاف سازی کند.))قرار است که دولت پاکستان بیش از یک میلیون مهاجر افغان را از کشورش اخراج کند.به نقل از ایندیپندنت،افریدی می گوید:افرادی که از حمایت بین‌المللی برخوردارند نباید در طرح اخراج اجباری پاکستان قرار بگیرند.وی گفت:کمیساری عالی پناهندگان سازمان ملل متحد آماده حمایت از پاکستان در توسعه ساز وکاری برای مدیریت پناهجویان و ثبت افراد نیازمند حمایت بین‌المللی در قلمرو این کشور و پاسخگویی به آسیب پذیری های خاص است.

از سوی دیگر دولت پاکستان تصمیم گرفته است که پس از این به جز گذرنامه معتبر هیچ سندی را برای ورود شهروندان افغانستان به این کشور به رسمیت نشناسد. پیش از این بیشتر افغان هایی که در نزدیکی خط مرزی افغانستان و پاکستان زندگی می کردند،فقط با ارائه شناسنامه های خود می توانستند وارد پاکستان شوند.حتی شهروندان مناطق دیگر نیز با دادن مقدار پول رشوه به پولیس،امکان ورود به خاک پاکستان را پیدا می کردند.اما حالا وزارت داخله دولت پاکستان به تمامی نیروهای مرزی و پولیس دستور داده است که از خطوط مرزی میان دو کشور به شدت مراقبت کرده و نگذارند هیچ کسی بدون مدرک مسافری معتبر وارد پاکستان شود. تصمیم به اخراج صدهاهزار تن مهاجر افغان از پاکستان با نگرانی و واکنش سازمان عفوبین المللی نیز روبرو شده است.این نهاد از دولت پاکستان خواسته است تا جلو آزار و اذیت،شکنجه،توهین،لت و کوب و حتی قتل مهاجرین افغان و بازداشت آنان را بگیرند.به اساس آخرین آمار ارائه شده از طرف سازمان ملل متحد در حدود یک میلیون و سه صدهزار تن مهاجر افغان در پاکستان به صورت ثبت نام شده حضور دارند و ۸۸۰ هزار تن دیگر نیز مدارک مسافرتی و اقامتی دارند.با این حال بیش از یک میلیون مهاجر بدون ثبت نام و به صورت غیرقانونی در این کشور زندگی می کنند.تنها در یک ماه گذشته پولیس پاکستان در شهر کراچی بیش از ۷۰۰ تن مهاجر افغان را بازداشت کرده و صدها تن در شهر های دیگر پاکستان نیز بازداشت شده اند. کشور های همسایه و کشورهای دیگر جهان باید مطابق قوانین بین‌المللی و حسن نیت در برابر افغانهای مقیم در آن کشور ها رفتار نمایند،اما بدبختانه گزارش ها می رساند که در این اواخر سختتر شدن شرایط زندگی در پاکستان و ایران در برابر افغانها علایق و مشترکات با افغانستان را خدشه دار می‌سازد و سخت گیری ها از سوی پولیس پاکستان سبب آزار ، اذیت،تحقیر،لت و کوب عده زیادی از مهاجرین افغان در پاکستان می شود.دولت موقت پاکستان که به تازگی ایجاد شده است در نخستین اقدام خود اعلام کرد که اکثر مهاجرین غیر قانونی افغان را از این کشور اخراج خواهد کرد.دایماً حکومت و نظامیان پاکستانی از سیاست های دوگانه در قبال مهاجران افغان کار میگیرند.البته مشکلات مهاجران افغان تنها در پاکستان و ایران نیست بلکه در کشور های اروپایی و امریکایی نیز به اینگونه مشکلات روبرو هستند.

در شرایط فعلی که زمینه بازگشت و عودت مهاجرین به کشور فراهم نیست،حکومت پاکستان نباید با اخراج اجباری مهاجرین افغان روحیه حسن همجواری و همسایگی را تضعیف یا خدشه دار نماید.کشور پاکستان بر خلاف موازین و قوانین بین‌المللی و با نادیده گرفتن توافقات ژنیو در مورد بازگشت داوطلبانه مهاجرین افغان از پاکستان ضرب الاجل تعیین کند و تعداد زیادی از مهاجرین افغان را از کشورش اخراج کند.

زمانی مهاجرین افغان در پاکستان و ایران از عزت و آبرو برخوردار بودند.

اما امروز از یک طرف زمینه کار برای مهاجرین افغان تازه وارد مساعد نیست و از سوی دیگر در کشور پاکستان کارگران و مهاجرین افغان مورد آزار قرار می گیرند.باید جوامع بین‌المللی امارت اسلامی افغانستان را به رسمیت بشناسند و از هیچگونه کمک های مادی و معنوی خویش دریغ نورزند.

# حق داشتن وکیل مدافع

غلام محمد احمدزی

هر شخص حق دارد وکیل مدافع داشته باشد، این بدان معنی است که هرکس حق تعین وکیل مدافع که با قانون آشنایی داشته باشد، حقایق را درک و قضیه را به نمایندگی از متهم به بهترین شکل ارایه دهد، را دارد. حق داشتن وکیل مدافع به نفع تمام جامعه است، اجازه برای یک محاکمه بدون نمایندگی از منافع متهم منصفانه نیست و بر خلاف اصل براءت الذمه میباشد.

۱. معنی لغوی وکالت

وکالت به فتحه و کسره واو در لغت به معنی واگذاری مطلق است، اعم از مال و کار خود را به شخص دیگری، کار های که در آن نیابت جایز است، تا وکیل آنرا در زمان خودش برایش انجام دهد. در فقه مراد از وکالت طلب جانشینی و نیابت کسی است از کسی دیگری درکار های که نیابت در آن پذیرفتنی است.

۲. وکالت در اصطلاح شرع

عبارت است از اینکه شخص کسی را به طور مطلق یا مقید نایب خود قرار دهد. و یا عبارت از توظیف یک شخص به عوض خود در تصرفات معلوم است. طبق حکم ماده ۱۵۵٤ قانون مدنی افغانستان وکالت عبارت از عقدیست که به موجب آن مؤکل شخص دیگری را در تصرفات قانونی و حقوقی معلوم قایم مقام خود میسازد. که درین صورت تفویض کننده صلاحیت را «مؤکل» و شخص که به او صلاحیت تفویض شده « وکیل» و موضوع تفویض شده را «مؤکل به» گویند.

۳. مشروعیت وکالت از دید قرآنکریم

وکالت از دیدگاه قرآنکریم مشروعیت خاص خود را داشته، آیاتی زیادی در مورد موضوع وکالت صراحت دارد. چنانچه در پاره ۱۳ سوره یوسف آیه ۵۵ از قرآنکریم، خداوند «ج» چنین می فرماید:

ترجمه: مرا سرپرست خزاین سرزمین» مصر» قرار ده که نگهدارنده و آگاه هستم.

بنابر این ثابت شد که عمل وکالت از دید قرآنکریم مشروعیت خاص خود را داشته است.

٤. مشروعیت وکالت از دید احادیث نبوی»ص«

عمل وکالت از دیدگاه احادیث نبوی»ص» جایز بوده و رسول اکرم»ص» خود در زمان حیات شان در امور خویش وکیل تعین کرده است.

۱.از ابی هریره»رض» روایت شده، شخصی نزد پیامبر خدا»ص» آمد، در طلب قرض خود در مقابل آنحضرت»ص» درشت زبانی نمود، صحابه» رضی الله تعالی عنهم» خواستند تا نسبت به آن شخص عکس العمل نشان دهند، پیامبر»ص» فرمودند:» با او چیزی نگوئید، چون زبان صاحب حق دراز است، سپس فرمودند همسن شترش برایش شتری بدهید». گفتند یا رسول الله»ص»: شتری مانند شتر او نیست، این شتر ها بر شتر او برتریت دارند. فرمودند: شتر بهتری بدهید! زیرا بهترین شما کسی است که قرض خودرا به طور شایسته تری ادا کند.

قرطبی گفته است: از احادیث بالا بر می آید که شخص حاضر هم میتواند از جانب خود وکیل بگیرد. چون پیامبر «ص» به یاران خود دستور داد که شتر وی را به طلب کار، بدهد و این عمل ایشان وکیل گرفتن است.

مسلمانان نیز در جواز وکیل گرفتن اجماع نمودند و گفتند: وکیل گرفتن مستحب است، چون این عمل(وکیل گرفتن) یک نوع تعاون بر»بر و تقوا» است که در قرآنکریم از آن یاد آوری شده است.

۵. وکیل مدافع در قوانین وضعی کشور

برای اینکه حق متهم تلف نشود و بدون موجب از طرف مدعی و یا څارنوال بالای وی ادعا صورت نگیرد، قوانین وضعی کشور قرار ذیل برای متهم حق داده ۵مخ

# افغـاني غالی د صـــادراتو له ټولو مهمه برخه جوړوي

**حیـاتالـله‌حلیـم**

دا یوڅرګنـد حقیقـت دی چـې دکورنیوتولیداتواومحصولاتـو وده د ملي اقتصاد د تقویې بشـپړضمانت کـوي ، خوپـه دې شرط چـې په هغه فورمـول وده ورکړل شي چې د یوه حـاذق ، په مـلي ګټومین او زړه سـواندې ذهـن زیږنـده وي، ځکه همدا اوس وینو،چې اسلامي امارت په افغانسـتان کې د صادراتو پراختیا ته په خپل ټول توان د ودې او انکشـاف ورکولو پـه حال کې دی. پخوا له دې مو په رڼو سـترګو لیدل چې دهېواد پـر اقتصادي وده خصوصاً د صادراتوپه برخه کې یوه داسې نامرېې (دیو) سیوری غوړولی و، چـې نـه یـوازې د صادراتوپه برخه کې بلکې د ملي اقتصاد د ودې پراختیا او پرمختیا په ټولو برخو کې یې په مختلفو ملي اونړیوالوبهانواو پلمودپرمختګ مخه ډب کړې وه ، افغانستان د نورو پریمانه اقتصادي زیرموترڅنـګ پـه صنعتي لحاظ هم لـه پخوا څخـه مختلف توکي تولیدول چې ښـه نړیوال بازار یې درلـود. په ځانګـړې ډول د قالینو صنعت چـې له پخـوا زمانوڅخه دهېواد په شمالي ولایتونوکې په ساده او د لومړنیو دستګاوو په ذریعه په لوړاومنـل شـوي نړیوال سـتندرد پرمـخ روان و او دغو قالینونړیوال شـهرت او بازاردرلود، کـه مبالغه ونشي د قالینوصنعت افغانستان نړۍ تـه وررپیژندلی وځکه . آسـیایی ، امریکایی او اروپایی هېوادونو کې یې لوړمارکیټ درلـود. دری نیمې لسیزې د مخه پر ملي سوداګرانو دا شرط کنبیودل شـو،چې دصادراتو او وارداتـو انـډول بـه برابـروي یعنې په کومه انـدازه چې واردات لـري په هماغه تناسـب باید افغاني تولیداتـواو محصولاتو تـه هم په نړیوالـو مارکیټونو کې د خرڅلاو بازارومونـدل شي. دا یوپه ځای ګام او اقدام و خـو دغه انډول د ملک د ناخوالوله وجې ډېردوام ونه موند . یـوازې افغاني قالینـې وي چې په هرډول لـه دروازې او دریڅې به له ملکه وتـې ځکه اهمیت اوکیفیت یې درلود ، که چیـرې اوس هم په صادراتـو او وارداتو کـې بیلانس انډول شي نونه یوازې په دې صورت کې بـه په ملي سوداګرواواسـلامي امـارت دعام ولـس باورزیات شي بلکې د هـرې برخې مولدین به دی ته وهڅیـږي چې خپـل تولیدات زیات کړي ، په دې کې شک نشته چې دصنعتي توکوپه ډله کې افغاني قالینوخپل پخوانۍ نړیوال شـهرت تراوسـه پر ځای سـاتلی ځکه دا قالینې به آمریکا ، اروپا اوآسـیا یې هېوادونو تـه تللې اود یادوملکونو پـه سـوداګریزو مارکیټونـو کې یـې ډېراخیسـتونکي درلـودل اوهراخیسـتونکي به پـه بازارکې ځان په دې یقینـې کاوه چې افغاني قالینه یې اخیسـتې ده. دا ځکه چې افغاني قالینې د کیفیت اوښـکلا له پلوه پـه ډېرمحنت اوبـدل کېدې نوځکه بـه یې د اوږدې مودې لپاره پایښـت هم درلود اومستهلکینوپه مارکیټونوکې خوښولې.

پخوانۍ قالینې له اصیلو افغاني اومو ، موادواوبـدل کېدلـې ځکه هغه وخت د قالینـو جوړولو لپاره اومه مواد لـه نـورو هېوادونوڅخه نه واردېدل اویـوازې اصل افغاني مواد چـې زیاتره د میږو(سـپینې وړۍ) اسـتعمالېدې ځکه سـپینې وړی د نورو وړیو په پرتله رنګ ژر اخلي مانـا داچې هررنګ چـې ورکوې ژر یې نه خاموي نو ځکه د سـپینو وړیواصالت اومفیدیت هم په دغه اصل کې نغښـتی دی اوکله کله یې خالص وریښـم هم په ترکیب کې وراضافه کېدل ٬ خوپخوانۍ ستندرد قالینې اوس په افغانستان کې څوک نشي اسـتعمالولای ځکه پـه ډېره لوړه بیه تمامیـږي او اوس زیاتره له وارداتي اومو موادوڅخه ، نه یوازې په افغانستان بلکې په ټوله نړۍ کې د قالینو اوبدلوصنعت چالان دی او اکثره اومه مواد یې ګازي دي چې له نورو هېوادونو څخه واردېږي که څه هم د قالینـو اوبدلوصنعت اوس د پخـوا پـه پرتلـه ډېرپراخ شـوی، پخوا به یـوازې د هېواد په شـمالي ولایتونو کـې قالینې اوبدل کېدې اوس د هېـواد په هرولایت کې دغـه صنعـت لاره موندلې ده ٬ د ولایتونوپـه کچـه ترټولو لوی کاروبار دننګرهارپـه ولایت کې روان دی.

په پخـواني ډېزایـن سرې ګلدارې قالینـې اوس کمـې لیـدل کېږي اودقالینـو ډیـزان اوګلونواوس په ښکلاییزډول بشـپړبدلون موندلی اوتقریباً له سـلو څخه پـه زیاتو ډیزاینوکـې اوبـدل کیـږي خود پخوانیو قالینو په اړه هم کله ناکله د قالین بافانو لـه خوا د متقاضیانو فرمایشـونه اخیسـتل کېږي چې د یوې میاشـتې اویا د شـلو ورځوپه اوږدو کـې فرمایش ورته سـپارل کېږي

د افغـاني قالینـو دصنعـت په اړه مهمـه سـتونزه داهـم ده کله چې افغانـان د روسي اشـغال له لاسـه پردیوهېوادونـواو په تیره بیا ختیځ پاکسـتان ته په کډوالۍ اړویسـتل شـول نو د شـمالي ولایتونو زیاتره وګړي هم پاکسـتان تـه ولاړل او د قالینـو اصیل صنعت یـې هم له ځان سره یووړ. کله چې پاکسـتاني کړۍ دافغانانودغـه اصیل صنعت ته متوجه شـوې نوپه ډېره بیړه یې د افغانانو په همکارۍ دغه صنعت ته په خپل ملک کې وده ورکړه او خپل پریمانه کسـان یې د افغانانو په شـاګردۍ و ګمارل ٬ ترهغه چې داسې وخت هم راغی چې د افغانانو په لاس په پاکستان کې او بدل شوي قالینې د پاکسـتاني صنعت په نامه نړیوالوته عرضه شـوې خوستونزه داوه چـې پاکسـتانیانوزموږ د قالینو صنعـت د خپلوبـی کیفیته اوموموادوپه ذریعه بې کیفیته کړ، مهمه خبره داوه چې په بهرکې بیا دا ټولې قالینې د پاکستان په نوم پلورل کېدې .



# متضررین زلزله اخیر هرات خواهان توجه امداد گران اند

متضررین زلزله روز شنبه در ولسـوالی زنده‌جان هرات خواهـان توجـه امدادگران به وضعیت شـان می‌باشـند. مسـئولین محلـی در ولایـت هـرات می‌گویند کـه در پی زلزله روز شـنبه (۱۵ میزان) در ولسـوالی زنده‌جـان ایـن ولایت، حدود ٦ قریه کاملاً و ٦ قریه دیگر به گونهٔ قسـمی ویران شـده اسـت. براساس معلوماتی که ریاست حوادث این ولایت ارائه می‌دهد، شمار جان باختـگان ایـن رویداد تاکنـون به ۲ هزار و ٤٤٥ نفر رسـیده و بـه تعـداد ۲ هزار و٤٤٠ نفـر دیگـر نیز زخمی شده‌اند.در ولسوالی زنده‌جان هرات عبدالقاسـم، جوانی که حـدود ۳ مـاه از ازدواجـش می‌گذرد، در اثـر زلزله خانم جوانـش را از دسـت داده اسـت.وی می‌گوید: ((در دو قلعه خانواده‌های زیادی جان باخته‌اند، از خـودم چند نفر زخمی شـدند و خانم خود را از دسـت دادم. چند ماه بیشتر نمی‌شـد که خانه خود را جور کرده بودیم.))

میر احمد، یکی از باشـندگان قریـه کشـک ولسـوالی زنده‌جان که ۲۳ تن از اعضای خانـواده خـود را از دسـت داده، خواستار رسیدگی فوری به زلزله‌زدگان است.

(( از حکومت می‌خواهیم که بـرای ما مکانی را مهیا سـازد تا حداقل کـودکان سرپناهی داشـته باشـند. زمسـتان هم نزدیـک اسـت و منطقه سرد شـده. می‌بینید که هیچ چیزی باقی نمانده است.))

زمیـن لـرزه روز شـنبه در ولسـوالی زنده‌جان هرات به تعداد یـک هزار و ۹۸۳ خانه را در۱۲ قریـه تخریب کرده اسـت.در اعلامیـه ریاسـت حـوادث ولایت هـرات که به رسـانه ها فرسـتاده، تعداد کشـته‌ها ۲ هزار و٤٤٥ نفر و تعداد زخمی‌ها ۲ هزار و ٤٤٠ نفر ذکر شده است.

فیض احمـد محمـدی، مدیر حوادث ریاسـت هلال احمر هـرات می‌گویـد که بیشـتر کشـته‌ها و زخمی‌هـای ایـن رویـداد را زنـان و کودکان تشکیل می‌دهند. ((پـس از وقـوع زلزلـه در ولسوالی زنده‌جان، کمک‌های دست داشته خود را که شامل مواد غیـر غذایی اسـت، در اسرع وقت به دسـترس مردم قرار دادیم.))

این در حالیسـت کـه مرکز زلزله نـگاری امریکا، وقوع چهار زمین لـرزه پی‌درپی در غرب کشـور را ثبت کرده و گفته اسـت که زلزله نخست با قدرت شـش اعشـاریه سه درجه ریشـتر حوالی ساعت ۱۱:۱۱ دقیقه پیش از چاشـت روز شـنبه، در عمـق ۱۰ کیلومتری زمین در ولسـوالی زنده‌جان رخ داده است.



# که بریالیتوب غواړئ د مور او پلار خدمت وکړئ

**ازهـــر احـــمدی**

دا یو روښانه حقیقت دی، چې مور او پلار پر خپلو اولادونو ځانګړي حقونـه لـري. لکه څنګـه چې د قـران عظیم الشـان په یـو مبارک ایت شریف کې داسـې راغلي دي : ژباړه (( سـتا پروردګار حکم کړي دي چې پرته له ده به د هیچا بندګي نـه کوي او له مـور او پلار سره به نیکي او ښـه چـال چلند کوي، که تا سره له هغونه یو یا دواړه زړښت ته ورسـیږي نو هغـو ته اف قدري مـه وایه او مه یې رټـه بلکې نرمې او پستې خبري ورته کوه او د هغو لپاره د عاجزۍ او مهربانۍ پسـتې وزرې وغوړوه او دا دعا کوه ،چې پـروردګاره ! پـر دوی رحم وکړې لکه څنګه چې دوئ له زړه سـوي او خواخوږي سره په ماشـومتوب کې زه پاللي وم.

د مـور او پلار اطاعت او له هغوئ سره ښـیګڼه او خدمـت یـې او د زړښـت او بوډاتوب حـق پیژندل یـې او د هغو نه ځـان تیټ ګڼل او د مرګ نه وروسـته ورته دعا کول دا واجب حقوق دي چې د اولاد په زمه باندې الله جل جلاله ایښې دي. دلته د اسـلامي لارښوونو پر اساس هغه لوی لوی اساسي اصول وړاندې کېږي ،چـې پر هغو باندې اسـلام د ټـول انسـاني ژوندانـه د نظام د ودانۍ جـوړول غـواړي د پورته آیت مطلب د علمای کرامو په باور یواځـې دومره نه دی، چـې له الله جل جلاله نـه پرته د بل چا عبادت او بندګي مه کوئ بلکې دا هم دي، چې بندګي او غلامي بې له څنګه او ولي ویلو اطاعت هم یواځې د هغه وکړئ د هغه حکم، حکم او د هغه قانـون، قانون وګڼئ او له هغه پرته بل هېچاته د لـوړ قدرت خاوند مه وایاست دا یواځې یوه مذهبي عقیده او یواځې د وګړنیزې کړنلارې لپاره یوه لارښـوونه ده، بلکـې د اد هغه بشپړ اخلاقي ټولنیز او سیاسي نظام د بنسټ لومړنۍ تیږه ده چې مدیني ته په رسـیدو پیغمبر صلي الله علیه وسـلم په عملي بڼه منځته راوسـته دغه ودانۍ پر هغې مفکورې جوړه شوې وه چې یواځې الله جل جلاله د هیواد ښبنتن دي او دهغه شریعت د هیـواد قانـون دي. ادب ،احترام او د والدینـو اطاعـت دا ډېر لوي اهمیت لري امام قرطبي وایي:(چې الله پـاک په دې ایت کې ادب او د والدینو احترام او له هغو سره ښـه سـلوک د خپل عبادت سره پیوسته ذکر کـړي او واجب کړي دي) ابن عباس رضي اللـه عنها فرمایي: چې په قرانکریـم کې دري ایتونه داسي پیوسـت سره نازل شـوي دي چې پرتـه د پیوسـت شـوي ایت څخه تنهـا د بل ایت ویل او کول الله جل جلاله نـه قبلـوي لکه:(اطیعوالله واطیعوالرسـول) نو که چـا د الله اطاعت وکړ او د رسـول الله صلي الله علیه وسـلم اطاعت یې ونه کړ الله پاک یې هغـه عبادت نه قبلوي او لکه: (واقیموالصلوة واتو زکوة) نو که څوک لمونځ وکړي او زکات ورنکړي نو د دي دا لمونځ الله تعالي نه قبلوي او یا دا ایت: (ان اشکرلي ولوالدیک) یعنـي زما او د والدینو اطاعـت د ټولو څخه مهـم دي او لکه د خداي د شـکر په ځای کول د والدینـو د شـکر د ادا کولو په شان واجب دي او څوک چې د الله شکر وباسي او د والدینو ناشکري کوي الله پاک یې نه قبلوي.

بخاري یـو حدیث را نقل کړي چې د رسـول الله صلي الله علیه وسـلم نه چا پوښـتنه وکړه چې دالله پاک پـه نزد کوم عمل ډېر محبوب دي؟ هغه مبار ک وفرمایل چې د والدینو سره ښه سلوک.

بخـاري ادب مفرد کـې د عبدالله بن عبـاس رضي الله عنها یو حدیث را اخیسـتي او فرمایـي : ژباړه: یو مسـلمان کس چې مسـلمان والدین ولري او د ثواب په خاطر هغوئ ته وګرځي الله پاک به ده ته په جنت کـې دوه دروازې خلاصې کړي نو کـه یو وي نو یـوه دروازه به ورته خلاصه شي او کـه د والدینو څخه یو هـم ناراضـه وي ترڅو چې یې هغه راضي کړي نه وي الله پاک به تـرې ناراضه وي چا پوښـتنه وکړه :کـه څه هم والدینو پرې ظلم کړي وي ، ویې فرمایـل: هو که څه هم د والدینـو له خوا پرې ظلم شـوي وي.همدارنګه جامـع ترمذي او د حاکم مسدرک د عبدالله عمر و بن العاض نه روایت راوړي چې رسول الله صلي الله علیه وسـلم فرمایلي: د الله پاک رضا د مور او پلار په رضا کې نغښتې ده.

د مور او پلار سره نیکي او ښـیګڼه پر جهاد مقدمه ده:

بخـاري د عبداللـه بـن عمر څخه روایت کړي چې یو سـړي رسـول الله صلي الله علیه وسـلم ته ورغي او ویـې ویل چې زه جهـاد ته ځم ، رسـول الله مبارک صلي الله علیه وسـلم ورته وفرمایل : چې مور او پلار دې ژوندي دي؟ سـړي عرض وکـړ چې بلې بیا ورته رسـول الله صلي الله علیه وسـلم وفرمایل: چې ته د هغوئ د خدمت لپاره پاتې شـه جهاد وکـړه یعني د والدینو خدمت کولو کې تاته د جهاد ثواب رسیږي او پـه بـل روایت کـې راغلي چې هغه سـړي وویل: مـا خپله مور او پلار په ژړا پریښـي او علیه وسـلم ورتـه وفرمایـل: چې لاړ شـه او هغـوئ وخندوه او ورته ووایه چې زه ستاسـو د رضا او خوښـي پرته جهاد تـه نه ځم. ددې روایت څخه معلومیږي چې تر څو یو شي فرض عـین نـه وي او دکفایي پـه درجه کې وي نـو دهغـه کار اجرا کول د والدینـو د اجازې پرتـه د اولاد لپاره جایز نـه دي، ددیني علومو د تحصیل تکمیل او ددین د تبلیغ لپاره سفر کول هم تر

**۵مخ**



# پیشگیری (وقایه) از جرایم

پوهنمل سمونوال شیرعلی «باتور احمدزی»

برای رهنایی انسانها و جلوگیری از شرک وگناه الله(ج) تقریباً یک لک وبیست وچهار هزار پیغمبر فرستاده وبالای انها چهار کتاب وصد صحیفه نازل گردیده است که مردم را به راه راست رهنایی کنند و یک الله(ج) را عبادت کنند و از هرنوع گناه، فساد وجرایم جلو گیری نمایند و جرایم را قبل از وقوع وقایه نمایند. وقایه بهتر از مجادله است که در جامعه رول ارزنده دارد، اگر در جامعه جرایم وقایه شوند ضرور نیست که پولیس جهت بر رسی محل جرم، دستگیری مجرمین و خارنوال وقاضی جهت تحقیق واصدار حکم خود را مصروف نمایند. ازیک طرف سر ومال مردم به امن میگردند وازطرف دیگر مفاد اقتصادی نیز می باشد. که از مصرف زیاد در بخش های مختلف از قبیل پولیس، خارنوالی و محابس جلو گیری به عمل می اید.

یک ضرب المثل عام در کسور ماست که مجرم دوقدم از پولیس پیشتر است. بخاطریکه قبل از قبل مجرم جرم مرتکب میشود و بعداً به پولیس اطلاع میرسد. درین جا پولیس ازبر رسی محل واقعه شروع میکند و بعداً خارنوال وقاضی دست بکار میشوند. پیشگیری درلغت به معنی مانع شدن، جلوگیری کردن ووقایه است. اما در اصطلاح جرم شناسی دو تعریف داریم:

۱. تعریف عام پیشگیری:
که توسط شخصی بنام شرمن ارائه شد. ایشان بیان می‌کنند هر اقدامی که نتیجه آن کاهش جرایم باشد پیشگیری نام دارد، لذا تعریف شرمن یک تعریف عام است مهم نیست چه کاری صورت بگیرد بلکه نتیجه مهم است.

۲. تعریف خاص پیشگیری:
که توسط گسُن ارائه شده است. ایشان می‌گویند: به اقدامات غیر کیفری که هدف اصلی آن کاهش جرایم است پیشگیری می گویند. بنابر این اقدامات کیفری از دایره شمول پیشگیری به معنای خاصی خارج می‌گردد. در صورتی که تعریف عام اقدامات کیفری هم شامل می‌شد. به موجب تعریف پیشگیری به معنای خاص اقداماتی که حتی غیر کیفری هستند. اما هدف اصلی آنها کاهش جرایم نیست باز هم از بحث پیشگیری به معنای خاص خارج می‌شود. یک وقت شهرداری در برنامه توسعه خود هر چهار پنج سال یک پارک احداث می‌کند، این پیشگیری نیست پیشگیری زمانی است که این پارک به هدف کاهش جرایم ساخته شود. افزایش روشنای خیابان‌ها زمانی پیشگیری است که اداره برق صرفاً این کار را بر حسب وظیفه ذاتی خویش انجام نه داده باشد. بلکه با هدف کاهش جرایم آن را انجام داده باشد.

سوال: آیا می‌توان با افزایش مجازات از افزایش جرایم جلوگیری کرد؟

نه خیر افزایش مجازات با میزان افزایش جرایم تاثیر می گذارند. بطور مثال مجازات مانند شاخه بری درختان است که بعد ازقطع نمودن ان شاخچه های باقی مانده درخت قوی تر شده ورشد می کنند. اما بعداً مشخص شد که مجرم درارتکاب جرائم اصلاً به مجازات جرم توجه ندارد. به همین ترتیب یک وقت درشهر پاریس فرانسه از کیسه بری که گرفتار شده بود پرسان کردند که چرا دزدی کردی؟ کیسه بر گفت: در وقت اعدام یک جنایتکار که مردم تماشای آنرا میکردند ومن پول های آنرا دزدیدم.

در یک تقسیم بندی پیشگیری برسه دسته تقسیم شده است: اولیه، ثانویه و ثالثیه.

۱. اولیه: برای تمام مردم است. به معنای اقدامات کلی است که در جهت از بین بردن زمینه‌های جرائم در سطح جامعه صورت می گیرد. مثل برنامه‌هایی که جهت از بین بردن اعتیاد، بیکاری و ترک تحصیل انجام می‌شود.

۲. ثانویه: برای کسانی است که در آستانه و قوع جرم می باشند و نیاز به اقدام فوری دارند. هنوز جرمی مرتکب نشده اند اما اوضاع و احوال و قرائن به نحوی است که امکان وقوع جرم از ناحیه آنها زیاد است. مثل افراد ولگرد، معتاد ودیوانه ... وغیره .

۳. ثالثیه: لازم به کسانی است که یک بار مرتکب جرم شده اند و از این رو اقداماتی انجام می‌دهیم که از تکرار مجدد جرم جلوگیری شود.

انواع پیشگیری از جرایم قرار ذیل است:

الف- پیشگیری اجتماعی.
ب- پیشگیری وضعی وتخنیکی.
ج- پیشگیری کیفری(جزایی) .

الف-پیشگیری اجتماعی(اصلاحی):

پیشگیری اجتماعی به کلیه اقداماتی که در راستای اصلاحات فردی و رفع عوامل جرم زای اجتماعی و محیطی اعم از خانواده، دوستان، همسالان، رسانه‌های گروهی، عوامل اقتصادی و آموزشی صورت می‌گیرد، اطلاق می‌شود و دو نوع است: پیشگیری رشد مدار و



پیشگیری جامعه مدار.

اول پیشگیری رشد مدار: به این توجه می‌شود که رشد جرائم در سطح جامعه در کدام مرحله از مراحل زندگی‌شان متوقف شده است و برای جرم مربوطه اقدامات لازم صورت می‌گیرد. مثلاً در یک جامعه‌ای که ۱۰۰ نفر جمعیت در آن قرار دارد ۱۰ نفر مجرم یا پرخاشگر هستند. این به دلیلی است که خانواده‌های این ۱۰ نفر نتوانستند در کودکی و نوجوانی به بچه‌ها آموزش بدهند که پرخاشگری خوب نیست لذا برای والدین آنها برنامه‌ای گذاشتند که چگونه اطفال خویشرا تحت تربیه واموزش قرار گیرند تا منحرف نشوند.

دوم پیشگیری جامعه مدار: مبنی براین است که ماباید کاری کنیم که مجرم مجدداً به اجتماع بر گردد. یعنی از طریق اجتماعی کردن دوباره مجرمین از ارتکاب مجدد جرایم پیشگیری نمایند. دلیل ارتکاب جرم ازسوی خیلی از مجرمین به علت احساسی است که دارند وگمان می کنند دراجتماع هیچ نقشی ندارند. ما باید افرادی را که ساکن مناطق جرم خیز والوده هستند را جامعه پذیر سازیم. مثلاً ادارات دولتی، مثل اداره ثبت احوال نفوس یا ... وغیره ویا حتی کلانتری به این مکان‌ها انتقال یابند و این افراد تصور کنند که دراین امور تعمل دارند. رفت وآمد ها باعث می شود که ساکنین آن مناطق جامعه پذیر وبه سراغ جرم نروند.

جرائم یقه سفید:

کسی که این اصطلاح را اختراع کرد شخصی است به نام ساترلن، او بیان می‌کند که بخشی از مجرمین هستند که به آن توجهی نشده است. از نگاه قانون‌گذار مخفی مانده اند و ازمجازات باز مانده اند، که به آنها مجرمین یقه سفید می‌گویند.

او بر این عقیده است که این مجرمین چند ویژگی خاص دارند که عبارت اند از:

۱- همیشه نسبت به آنها اصل برائت وجود دارد؛ یعنی جامعه به هیچ وجه به او به دید مجرم نمی‌تواند بنگرد. لذا این افراد اصلاً دوست ندارند که از آنها تصویر بدی در جامعه بوجود بیاید و روی این موضوع خیلی حساس هستند.

۲- این مجرمین با توجه به موقعیت‌شان دست به ارتکاب جرم می‌زنند. در واقع اشخاص بلند مرتبه و دارای موقعیت و سمت حساس هستند. مثلاً اگر یک کارمند عادی بخواهد جرم رانجام بدهد همه مردم به کار او حساسیت نشان می‌دهند. اما اگر یک مدیر کل و یا معاون وزیرمرتکب اختلاس میلیاردها افغانی شود هیچ کس هم متوجه نمی‌شود. مجرمین یقه سفید از موقعیت‌شان سوء استفاده می‌کنند.

۳- مجرمین یقه سفید مرتکب جرائم فسفری می‌شوند. جرائم فسفری جرائمی هستند که نیاز به تفکر، مغز و حیله و نیرنگ دارد مقابل جرائم کلسیمی که آنها بیشتر نیاز به قدرت دست و نیرو دارد.

۴- با این که اکثر جرائم با فعل تحقق می‌گردد، این سری از جرائم با ترک فعل صورت می‌گیرد. آن مشکل خواهد بود.

•رقم سیاه جرائم این گونه مجرمین بیسار بالاست. رقم سیاه رقمی است که نه جرم و نه مباشر هیچ کدام کشف نشده اند. علت عدم کشف این است که بزه دیده مشخصی ندارد.

• بطور خلاصه میتوان جهت اصلاح جامعه تبلیغ وترویج احکام دین مقدس اسلام وقوانین نافذه کشور در جاهای ذیل صورت گیرد :

•۱ ـ مساجد
•۲ ـ مکاتب
•۳ ـ ادارات دولتی وخصوصی
•٤ ـ سازمان های اجتماعی
•٥ ـ پوهنتون های دولتی وخصوصی
•٦ ـ ـ در محلات سلب ازادی
•۷ ـ نقش وزارت حج واوقاف(در استخدام امامان واجد شرایط) وسایر مناطق کشور
•۸ ـ نقش وزارت کار وامور اجتماعی را جع به کاهش بیکاری

ب - پیشگیری وضعی وتخنیکی:

اقداماتی که در وضعیت ارتکاب جرم و مراحل ارتکاب جرم صورت می‌گیرد تا فرصت ارتکاب جرم را از مجرم بگیرد. به جای اینکه شخص را عوض کنیم وضعیت ارتکاب جرم را عوض می‌کنیم. همانند بلند کردن دیوار منازل یا روشنی محله‌ها در شب و نصب دزدگیر(زنگ های الکترونیکی که در وقت تماس زگنال می دهد)

مبنای پیشگیری وضعی:

بر اساس نظریه اصالت سودمندی بنتام است که اشاره می‌کرد تمامی افراد در رفتارهایشان دنبال سود و فایده هستند. پس باید کاری کنیم که شخص خود را در عدم ارتکاب جرم بداند و از بزه منصرف شود.

روش‌های پیشگیری وضعی:

الف) جرم انگاری جرائم مانع: جرمی از سوی قانون گذار مطرح می‌گردد که از طریق آن از مرحله بعدی جرم پیشگیری کرده باشد. مثل ممنوعیت حمل غیر مجاز سلاح که قانون گذار با این کار از وقوع قتل پیشگیری می‌کند.

ب) ایجاد حفاظت‌های فیزیکی: همانند قرار دادن درهای حفاظتی فلزی در ورودی آپارتمان‌ها.

ج) ایجاد مانع بین افراد و سیکل جرم: معمولاً در مورد مسئولین یا سرمایه داران یا سیاستمداران اعمال می‌گردد. مثل بررسی قبلی نقاطی که این افراد می‌خواهند در آنجا حضور پیدا کنند یا قرار دادن گارد ویژه.

د) شیوه سنتی نظارت و کنترل همانند پولیس، نگهبان، سرایدار و... کنترل خروجی‌ها و ورودی‌ها مثل نصب گیت مقناطیسی.

و) استفاده از کارت های بانک بجای انتقال پول.

هـ ) ایجاد فاصله یا موانع بین موضوع جرم ومجرم .

انتقادات پیشگیری وضعی:

۱. جابه جایی یا انتقال جرائم: که مهم‌ترین ایراد این نوع پیشگیری می‌باشد و بیان می‌کند که با این نوع پیشگیری جرائم از ریشه پیشگیری نمی‌گردد. مثلاً سارق از این به بعد از شیوه های جدید دیگر استفاده می کند .

۲. این نوع پیشگیری همه جرائم و همه افراد را نمی‌تواند پوشش بدهد. زیرا این نوع پیشگیری یک حالت توسعوی دارد و مثلاً همه مردم را نمی‌تواند به نصب دزدگیر مجبور کند.

۳. ایراد اقتصادی: به مصرف زیاد صورت می گیرد و برای چنین هزینه‌هایی باید یک فرهنگ سازی صورت بگیرد.

۴. ایراد حقوقی: این نوع پیشگیری گاه مخالف آزادی‌های اشخاصی است که ممکن است انسان احساس امنیت خاطر و آرامش خود را از دست بدهد.

۵. پیچیده کردن جرائم: وقتی برای طلا فروشی دزدگیر نصب می‌شود سارق از ارتکاب جرم پشیمان نمی‌گردد بلکه به دنبال آن است که دزدگیر را خنثی کند بعضی جرائم فنی‌تر و تخصصی‌تر می‌شود.

بطوری خلاصه پیشگیری وضعی به طریقه های ذیل صورت می گیرد:

۱ ـ نصب کمره های امنیتی .
۲ ـ سیم خاردار.
۳ ـ دیوارها ودیوار های اسکو (سمنتی).
٤ ـ پهره وگزمه وپوسته های امنیتی
٥ ـ کندن جوی ها ، خندق ها ودیگر موانع .
٦ـ نصب دزد گیر ونصب دروازه های مقناطسی.

ج - پیشگیری کیفری (جزایی ):

وقتیکه پیشگیری‌های اجتماعی (اصلاحی)، وضعی و تخنیکی اثرگذار نباشند جهت جلوگیری از جرایم از پیشگیری کیفری استفاده صورت می‌گیرد. که عبارت است از تطبیق مجازات بالای مجرم که هدف مجازات اصلاح مجرم وعبرت به جامعه می باشد و در جریان سلب آزادی از عمل خویش پشیمان شده ودر پهلوی ان کار تربیتی واصلاحی نیز بامجرمین صورت می‌گیرد. که در نتیجه از تکرار جرم پیشگیری می‌شود.

بایدبخاطر داشت که مجازات متناسب با عمل ارتکاب یافته باشد وقاضی در اصدار حکم تمام جوانب قضیه، شخصیت مجرم وانگیزه ارتکاب جرم رادرنظر داشته باشد. که درتخفیف مجازات اثر خاص دارد .

هم‌چنان هیچ مجرم بدون مجازات نماند وهیچ بی گناه مجازات نشود که درجامعه جلوگیری از رشد جرا یم می‌گردد.

بطور خلاصه پیشگیری کیفری به طریقه ها ی ذیل صورت می گیرد:

۱ ـ تطبیق قوانین جزائی یک سان بالای مجرمین
۲ ـ مجازات عادلانه به مجرمین
۳ ـ کار تربیوی بامحبوسین در محلات سلب ازادی
٤ـ ترس از مجازات
٥ـ اکثرأ دانشمندان جهان به این عقیده اند که مجرم به اثر ارتکاب عمل مخالف قوانین ومقررات جامعه نظم جامعه رابر هم زده وجامعه حق دارد آنرا مجازات کند.

**نتیجه**

باتر تیب وتحریر این مقاله به این نتیجه رسیدم که جلو گیری از جرایم وتامین امنیت اعتبار واطوریته دولت را درکشور بالا میبرند ومردم که جان ومال انها به امن باشند خودرا مصون احساس میکنند درین صورت مردم میتوانند به ارامی بدون کدام تشویش وظایف سپرده شده و شخصی خویش را به صورت درست انجام میدند. اگر قبل از وقوع جرایم جلو گیری گردند از مصارف زیاد در بخش های امنیتی، قضا ومحابس جلو گیری بعمل می اید.

**ماخذ:**

**۱- ستوده هدایت الله ، بهشته مرزائی وافسانه پازند، چاپ پنجم انتشارات اوای نور تهران ایران ) سال ۱۳۸۷ هجری شمسی .**

**۲- محسنی فرید، جرم شناسی، نشرات پوهنتون امام صادق، تهران، سال(۱۳۹۴) هش.**

### حق داشتن...

است که از خود دفاع کند، احیاناً اگر متهم بنابر مشکلاتی همچون نداشتن فصاحت لفظی و نداشتن جرئت دفاع، میتواند برای خود وکیل مدافع تعین نماید.

۱.مطابق حکم ماده ۳۱ قانون اساسی که چنین صراحت دارد:

فقره اول: هر شخص میتواند برای دفاع اتهام به مجرد گرفتاری ویا برای اثبات حق وکیل مدافع تعین کند.

فقره دوم: دولت در قضایای جنایی برای متهم بی بضاعت وکیل مدافع تعین نماید.

۲.مطابق حکم ماده ۹ قانون اجراآت جزایی: مظنون و متهم میتوانند شخصاً یا توسط نماینده قانونی، در هر مرحلهٔ از تعقیب عدلی از خود دفاع نمایند.

۳.مطابق حکم فقره هشتم ماده ۷ قانون اجراآت جزائی: که داشتن وکیل مدافع را یکی از حقوق مظنون، متهم و مسئول حق العبد دانسته است. یاد آوری شده است.

٤.مطابق حکم مادهٔ(۱٤۸) قانون اجراآت جزائی: ځارنوال مکلف است در اولین برخورد با مظنون، هویت وی را تثبیت و ارتکاب عمل جرمی را که به وی نسبت داده شده ابلاغ و بعد از آگاهی وی در رابطه به حق داشتن وکیل مدافع اظهارات او را در زمینه جویا شود.

٥.مطابق حکم مادهٔ(۱٥۲) قانون اجراآت جزائی: ځارنوال قبل از آغاز تحقیق از متهم میخواهد، وکیل مدافع با خود داشته باشد. هرگاه متهم از گرفتن وکیل امتناع ورزد، موضوع در محضر درج و امضای وی اخذ میگردد. در صورتیکه متهم عدم توانائی مالی خود را برای گرفتن وکیل مدافع اظهار نماید، مطابق احکام قانون و مقررهٔ مربوط به ادارهٔ مساعدت های حقوقی معرفی میگردد.

نتیجه گیری

حق داشتن وکیل مدافع که یکی از حقوق اساسی و مهم افراد بوده و به نفع تمام جامعه است. هر فرد حق دارد در موضوعات حقوقی و جنائی از خود وکیل و یا نماینده داشته باشد. این کار نه تنها بی گناهان را از مجازات ناروا محافظت میکند، بلکه پولیس و ځارنوال را تشویق میکند تا در پروسه های کشف و تحقیق جرایم بیشتر دقیق و متوجه باشند.

منابع

الف- منابع اسلامی

۱.قرآنکریم.

۲.احادیث نبوی(ص).

ب- کتب

۱. مصری، سید سابق، فقه السنه. ج.(٤).

۲. ژوبل، محمد عثمان، شرح مجلة الاحکام، ج(٤)، سال(۱۳۸۱). مطبعه دولتی.

ج- قوانین

۱. قانون اساسی افغانستان، (۱۳۸۲). جریده رسمی، وزارت عدلیه.

۲. قانون اجراآت جزائی، (۱۳۹۳). جریده رسمی، وزارت عدلیه.

۳. قانون وکلای مدافع، (۱۳۸٦). جریده رسمی، وزارت عدلیه.

### که بریالیتوب غواړئ ...

دي حکم لاندې راځي .

په یو بل روایت کې راغلي ، ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص وایي چې یو سړي نبي علیه السلام ته ورغي او ورته ویې ویل چې زه له تاسره په هجرت او جهاد بیعت کوم چې الله پاک راته اجر او ثواب راکړي نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل چې آیا مور او پلار دې ژوندي دي؟ څوک یې ژوندي شته؟ هغه سړي وویل چې بلې دواړه ژوندي دي نو بیا ورته نبي علیه السلام وفرمایل چې لاړشه او د خپلو والدینو خدمت وکړه او له هغوئ سره ښایسته او نرمې خبرې وکړه او ابو لیث سمرقندي د انس رضي الله عنه یو روایت را اخیستي دي چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم په زمانه کې یو ځوان چې علقمه رضي الله عنه نومیده ډیر سخت مریض شو. چا ورته وویل چې لاالله الاالله کلیمه ووایه نو هغه کلیمه نه شوه ویلي .دده ښځې رسول الله صلي الله علیه وسلم ته خبر ورکړ چې علقمه کلیمه نه شي ویلي، رسول الله صلي الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې مور او پلار یې شته؟ عرض وکړای شو چې پلار یې مړ دي خو مور یې ژوندئ ده .ویې فرمایل چې مور یې راولئ .رسول الله صلي الله علیه وسلم یې له مور څخه د هغه د ژوند د حال پوښتنه وکړه مور یې وویل چې اي د الله رسوله ډیرلمونځونه او ډیرې روژې یې نیولې او ډیر خیراتونه یې کول د هغې د پیسو د ډیر لګښت او دراهمو اندازه مور ته نه لګیده رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چې ستا سره یې ګوزاره څنګه وه؟ مور یې وویل: چې زه ترینه خفه یم. رسول الله صلي الله علیه وسلم ترینه وپوښتل چې ته ولې خفه یې؟ موریې وویل: چې خپلې ښځې ته به یې پرما ترجیح ورکوله او دهغې مطیع او تابعدار و. رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل: په داسې حال کې چې موریې په غصه وه او د لاالله الاالله د کلیمې ویلو ته یې ژبه بنده ده، بیایې وفرمایل چې بلاله لاړشه او ښه ډیرخس او خاشاک راټول کړه چې ددې ښځې زوي په کې وسیځو. ښځې وویل چې اي دالله رسوله! زما د مخه زما د زړه ټوټه سوځوئ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :که ته خوښیږې چې وبخښل شي نو ته ورته بخښنه وکړه قسم په الله تر څو چې ته خفه یې لمونځونه روژې او صدقې ورته ګټه نه رسوي .موریې وویل: چې یا الله ته په آسمان کې او دالله رسول سره ناست کسان ګواه اوسیږې چې زه ترینه راضي یم او خپلې پې مې وربخښلي، بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چې بلاله لاړ شه وګوره چې علقمه کلیمه ویلي شي او که نه کیداي شي چې د علقمه مور زما څخه د حیا کولو په خاطر د زړه له اخلاصه خبره نه وي کړې بلال لاړلو او کله چې د کور دروازې ته ورسیدلو نو د علقمه د خولې څخه یې د شهادت کلیمې آواز واوریدلو په همدغې ورځ مړ ، شو غسل او کفن ورکړای شو او رسول الله صلي الله علیه وسلم یې د جنازې لمونځ ادا کړ او په قبر باندې یې وعظ کولو او ویې فرمایل چې اي د انصارو او مهاجرینو څوک چې خپلې ښځې ته پر مور ترجیح ورکوي پر هغه دې دالله لعنت وي د هغه نه توبه قبلیږي اونه صدقات.

دا حدیث احمد او طبراني په بل لفظ سره راوړي دي .د مور او پلار د مرګ نه وروسته هغو ته دعا غوښتل او د ملګرو یې عزت کول ژباړه: ابو هریرة رضي الله عنه وایې چې د مرګ نه وروسته د مړي مرتبه او درجه پورته کیږي نو دا مړي به الله جل جلاله ته وایي : اي زما ربه دا څه شي دي (چې ماته دې داسې لوړه درجه راکړه) الله به ورته وایي چې ستا د اولاد د دعا نتیجه ده چې ستا لپاره یې بخښنه غوښتله.

په بل روایت کې راغلي ژباړه: مالک بن ربیعه وایې چې موږ د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره ناست وو چې د بني سلمه د قبیلې څخه یو کس راغې عرض یې وکړ چې اي د الله رسوله! آیا زما د مور او پلار وفات څخه وروسته کوم ښه عمل زما په ذمه شته چې زه یې سرته ورسوم او له هغوئ سره مې ښیګڼه کړې وي هغه مبارک وفرمایل چې هو د هغوئ لپاره د مغفرت دعاګانې او له چا سره یې چې عهد کړې وي د هغه پوره کول او د هغوئ د دوستانو عزت کول او صله رحمي کول چې د خپلوي اړیکې دهغوئ په واسطه شوې وي. د رسول الله صلي الله علیه وسلم دا عادت و چې د ام المؤمنین حضرت خدیجې رضي الله عنهما د وفات نه وروسته به یې دهغې د وستانو ته هدایه لیږه چې له دغه کار څخه د رسول الله صلي الله علیه وسلم هدف د خدیجې رضي الله عنها د حق ادا کول و.دغه راز په بل روایت که راغلي چې دمکې په لاره کې عبدالله بن عمر د یو سړي سره مخ شو نو عبدالله پرې سلام واچولو او پر هغه مرکب(خره) چې عبدالله رضي الله عنه پرې سپور و هغه سړي یې سپور کړ او خپله لونګۍ یې هغه ته ورکړه ابن دینار وایي چې ما ورته وویل :الله دې له تاسره ښه وکړي بانده چپان په ډیر کم شي خوښیږي نو عبدالله رضي الله عنه وفرمایل چې دده پلار د عمر بن الخطاب رضي الله عنه دوست و او ما د جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې هغه مبارک وفرمایل چې د مور او پلار له دوستانو سره اړیکې ټینګول دا غوره او ښه چال چلند دي.نو پورته یادشوي مبارک آیتونه او احادیث دا موږ ته را زده کوي چې د ژوند په پړاویزو شیبو کې سل په سلوکې باید د خپلې مور او پلار اطاعت، درنښت او خدمت وکړو او تل ښو او غوره خدمتونو په ترسره کولو ددوئ زړه خپل او رضایت یې حاصل کړو ځکه چې د پاک الله جل جلاله رضایت هم د مور او پلار په رضایت کې نغښتي دي ، نو بې له شکه نیکمرغه به وي هغه انسان چې دې په لومړي قدم کې د پاک خدای(ج) عبادت په ښه توګه ترسره کړي او همدا راز خپل کارونه، خپل ورځني کړه وړه او چال چلند هم ټول د اسلامي شریعت او اسلامي غوره اخلاقو په نظر کې نیولو سره سمبال کړي ترڅو په دې توګه له دنیوي او اخروي دواړو ښیګڼو څخه برخمن شي.

### د سیمې هیوادونو کې...

د سیمې په هیوادونو کې د نا امنیو دوه اصلي لاملونه یې د امریکا لاسوهنې او د اسرائیلو د رژیم موجودیت وباله.سرچینې زیاته کړه، چې د داعش د ځپلو په برخه کې د اسلامي امارت هڅې د ستاینې وړ دي، خو امریکا لا هم په افغانستان کې د شرموونکې ماتې خوړلو له کبله د غچ اخیستو په موخه د داعش ملاتړ کوي. قمي همدارنګه وویل ،چې د اسلامي امارت پر لوړ پوړو چاروکو بندیزونو لګولو سره امریکا غواړي ،چې په دې توګه د افغانستان بهرنۍ اړیکې کنټرول کړي.د ایران د ولسمشر ځانګړي استازي په یاد هیواد کې له افغان کډوالو سره تاوتریخوالي د یو شمېر افراطي کسانو کار وباله او ویې ویل ، چې د ایران حکومت او ولس افغان کډوالو ته د میلمنو په سترګه ګوري.ده وړاندې وویل، چې په افغانستان کې اقتصادي ثبات د ایران پر اقتصاد مثبته اغیزه لري، په همدې موخه د ایران حکومت په اقتصادي برخه کې د افغانستان د پر ځان بسیاینې ملاتړ ته دوام ورکوي.هېره دې نه وي، چې په کابل کې د ایران سفیر په دې غونډه کې همدارنګه زیاته کړه، د دې لپاره، چې له ایران څخه واردېدونکي توکي او نفتي مواد د افغانستان د ستنډرډ ملي اداري له لوري بېرته مسترد نشي، د ایران تولیدي شرکتونو ته لارښوونه شوې، چې کیفیت ته جدي پاملرنه وکړي او د بې کیفیته توکو له تولید څخه ډډه وکړي.

### په لومړي ځل د پامیر...

خلکو په ځانګړي ډول د واخان ولسوالۍ د پامیر اوسېدونکو ته ځانګړې پاملرنه شوې او روغتیایي مرکز او د سړک چارې چې افغانستان له چین سره نښلوي، د جوړېدو په حال کې دي.ورته مهال د واخان ولسوالۍ د کوچني پامیر اوسېدونکو د دوی د عمومي وضعیت په اړه د افغانستان د اسلامي امارت له پاملرنې او هلو ځلو مننه او قدرداني وکړه او زیاته یې کړه چې هېڅ دولت ورته پاملرنه نه ده کړې.یاد روغتیایي مرکز په داسې حال کې پرانیستل کېږي، چې د کوچني پامیر اوسېدونکي له ګڼو روغتیایي ستونزو سره مخ وو.

### ایران دې افغان...

لوري څخه غوښتنه وکړه، چې په چابهار بندر کې د پانګونې په موخه افغانستان ته یوه تشویقي کڅوړه ځانګړې کړي.نوموړې زیاته کړه، چې د افغانستان او ایران ترمنځ د یوه ګډ سوداګریز مرکز پر جوړولو کار روان دی او هیلې شته ،چې په دې سره د دواړو هیوادونو ترمنځ سوداګري لا ډېره او اقتصادي اړیکې یې پیاوړې شي.مومند همدارنګه له ایراني پانګوالو څخه وغوښتل، چې په افغانستان کې د کانونو، کرنې، روغتیا، برښنا او ټرانزیټ په برخو کې له افغان سوداګرو سره ګډه پانګونه وکړي.په ورته وخت کې د ایران د خراسان رضوي ولایت والي مهندس نظري په دغې غونډه کې وویل: دوی د پانګونې او سوداګرۍ په موخه د افغان سودا ګرو لپاره د هر ډول اسانتیاوو رامنځته کولو ته چمتو دي. نوموړي زیاته کړه، چې افغانستان ته د ایراني سوداګریز پلاوي د سفر موخه د دواړو هیوادونو تر منځ د اقتصاد، مسلکي پانګونې، سوداګرۍ او ټکنالوژۍ په برخه کې د اړیکو پراختیا ده.سرچینې له افغان حکومت څخه هم غوښتنه وکړه، چې افغان کډوالو ته زمینه برابره کړي، ترڅو بېرته خپل هیواد ته راستانه شي.هغه په ایران کې له مېشتو افغان کډوالو سره د ښه چلند ډاډ ورکړ.د یادونې وړ ده، چې د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت په بلنه د ایران د خراسان ولایت د والي سردار یعقوب علي نظري په مشرۍ د دې هیواد د سوداګرو او پانګوالو ۸۵ کسیز پلاوي پرون افغانستان ته را رسېدلي ترڅو دلته د پانګونې شته ظرفیتونه له نږدې وګوري او په دې تړاو له افغان لوري سره خبرې اترې وکړي.

### ملا خیرالله خیرخواه ...

کړي.خیرخواه ډاډ ورکړ ، چې له امیرالمؤمنین (حفظه الله) څخه نیولې بیا تر ادنې مسئول پورې ټول د روغتیا برخې ته جدي پاملرنه کوي. نوموړي د یاد روغتون ټول پرسونل ته هم د دوی د ستونزو د حل ډاډ ورکړ..

### د افغانستان او ایران...

اعلان کړ.ده همداراز زیاته کړه، چې د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر له زلزله ځپلو سره د مرستې لپاره د ایران د بهرنیو چارو وزیر د خواخوږۍ او د هغه له ژمنې مننه وکړه.د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د دې تلیفوني خبرو په پای کې د اړتیاوو په اړه د معلوماتو د شریکولو په ترڅ کې د دواړو لورو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو پر لا پراختیا او پیاوړتیا او د افغانستان او ایران ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ.د یادونې وړ ده، چې د تېرې شنبه په ورځ د هرات او بادغیس ځینې سیمې زلزلې ولړزولې. د هرات سیمه ییزو چارواکو وړمه ورځ ماښام خبر ورکړ، چې د دغه ولایت په زنده جان او غوریان ولسوالیو کې ۱۲ کلي په بشپړه توګه ویجاړ شوي.

### د ارزګان په چینارتو...

کې د بېلابېلو پروژو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.مسئولینو وویل، چې یادو پروژو کې د پنځه اعشاریه نهه سوه نوې کیلو مترو په اوږدوالي د کلیوالي سړکونو جغل اچول، د دیرش اعشاریه نهه سوه پنځه خلویښت کیلو مترو په اوږدوالي د ویالو جوړول، پخول او پاکول شامل دي. د یادونې وړ ده، چې په دغو پروژو کې ۷۲۰ تنه کاریګرو ته د کار زمینه برابره شوې وه، چې هر کاریګر ته د هرې کاري ورځې په مقابل کې ۴۵۰ افغانۍ نقدي پیسې ورکړل شوې.

### د زابل دربو ولسوالیو...

به د خلکو په خدمت کې وي. د سیمې خلک وایي، د عاجلو ناروغانو د انتقال په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ وو او تمه ښیي چې د دغو امبولانسونو په فعالېدو سره به یې ستونزې حل شي. ورته وخت کې د زابل د عامې روغتیا رئیس ډاکټر میرویس افغان ویلي، چې دغه امبولانسونه به وکولی شي په دغو دربو ولسوالیو کې د مور او ماشوم د مړینې د کچې په راټیټولو کې هم ګټور تمام شي.

### هغه افغانان چې...

د پاکستان سرپرست لومړي وزیر انوار الحق کاکړ ویلي و، چې افغان کډوال باید له پاکستانه وایستل شي. ویل کېږي چې دا مهال په پاکستان کې شاوخوا ۴،۴ میلیونه افغان کډوال اوسېږي.

### له چین څخه ۲۲ ...

کې مهم رول لوبولی شي. په همدې حال کې د ازبیکستان استازي ،چې له چین څخه بلخ ته د سوداګریزو توکو د رسېدو پرمهال یې حیرتان بندر کې حضور درلود، د دواړو هیوادونو ترمنځ پر اقتصادي پرمختیا او د افغان سوداګرو لپاره د لا ډېرو آسانتیاوو پر رامنځ ته کولو ټینګار وکړ.

# Hewad Daily

سه شنبه د ربیع الاول ۲۵مه ۱۴۴۵ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د تلې ۱۸ مه د 2023 م کال داکتوبر ۱۰ مه



د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۰۲۵۲۶۳۱ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


# د افغانستان او ایران د بهرنیو چارو وزیرانو تیلفوني خبرې کړې




د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال ضیا احمد تکل پرون په خپله اکس ټولنیزه پاڼه کې لیکلي ،چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان له مولوي امیرخان متقي سره تلیفوني خبرې وکړې، د بهرنیو چارو وزارت د هرات ولایت د زلزلې له قربانیانو سره خپله خواخوږي څرګنده کړه او له زلزله ځپلو سره هر ډول همکارۍ ته یې چمتووالي **۵مخ**

## د ارزګان په چینارتو ولسوالۍ کې بېلابېلې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د ارزګان د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د نړیوال بانک په مالي لګښت د دغه ولایت په چینارتو ولسوالۍ کې بېلابېلې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي چې د یاد ریاست تر چتر او نظارت لاندې، د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د ټولنیز ملاتړ او معیشت پروګرام له لوري د ارزګان په چینارتو ولسوالۍ **۵مخ**

# له چین څخه ۲۲ کانټینره سوداګریز توکي حیرتان بندر ته راورسېدل

د وسپنې پټلۍ اداري مسئولین وايي ،چې له چین څخه ۲۲ وسپنې پټلۍ له لارې هیواد ته رالېږدول شوي دي. دغه



کانټینره سوداګریز توکي د سوداګریز توکي پرون له هغه هیواده افغانستان ته رالېږدول شوي دي. د یادې ادارې د مسئولینو په وینا: دغه سوداګریز توکي چې د لېږدوونکو وسایطو پرزې په کې شاملې دي، د ازبیکستان او قرغزستان له لارې له لسو ورځو وروسته له چین څخه د بلخ حیرتان بندر ته رارسېدلي دي. په ورته وخت کې د بلخ والي وایي، د سیمې هیوادونو سره سوداګریزه راکړه ورکړه دهېواد په اقتصادي وده **۵مخ**

# د زابل دریو ولسوالیو کې د امبولانس خدمتونو پیل شول

د زابل د عامې روغتیا ریاست مسئولین وايي، چې په نوبهار، پیل کړي. د دغو دریو ولسوالیو روغتیایي مرکزونو ته امبولانسونه



خاک افغان او دایچوپان ولسوالیو کې یې د امبولانس خدمتونه د یونیسف نړیوالې ادارې له لوري ورکړل شوي او ۲۴ ساعته **۵مخ**

## بهرني لنډ خبرونه

## حماس ډلې اسرائیلي ځواکونو ته درنه مرګ ژوبله اړولې



په داسې حال کې چې په دریېمه ورځ هم د حماس مجاهدینو او اسرائیلي نیواکګرو ترمنځ خونړۍ نښتې روانې دي اسرائیلي رسنۍ وايي، چې تر اوسه یې کابو زر تنه پوځیان وژل شوي او تر ۳۰۰۰ نورو ټپیان دي.له غزې بیا ورکړل شوي راپورونه وايي، چې د اسرائیلي اشغالګرو په هوايي بریدونو کې ۴۳۰ فلسطینیان شهیدان شوي او ۲۰۰۰ نور ټپیان دي.د القسام ویاند ابو عبیده رسنیو ته ویلي، چې ځواکونه یې له غزې د باندې پر هغو سیمو بشپړ کنټرول لري چې د جګړې په لومړۍ ورځ یې نیولې وې او لا هم خپل پرمختګ ته دوام ورکوي.د ویلو ده چې د «طوفان الأقصی» په نوم د فلسطیني مجاهدینو دغه تاریخساز عملیات د رواني اکتوبر میاشتې په ۷ مه نېټه سهار وختي پیل شوي او لا هم دوام لري.

## د فلسطین په اړه د فارس خلیج د همکارۍ شورا او اروپايي اتحادیه غونډه کوي

د عمان د بهرنیو چارو وزیر اعلان کړی ، چې د فارس خلیج د همکارۍ شورا او د اروپا اتحادیې د بهرنیو چارو وزیران به روانه اوونۍ په مسقط کې غونډه وکړي او د فلسطین د تحولاتو په اړه به بحث وکړي.د عمان د بهرنیو چارو وزیر بدر البوسیدي د ایکس ټولنیزې شبکې (پخواني ټویټر) له لارې لیکلي: زه د فارس خلیج د همکارۍ شورا د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډې ته سترګې په لاره یم. ده زیاته کړه: (( موږ به سمدستي د فلسطین او اسرائیلو ترمنځ د روان کړکېچ او د دې شخړې د پای ته رسولو لپاره د دایمي حللارې د پیدا کولو اړتیا وڅېړو.)) د فلسطین د مقاومت جنګیالیو له شنبه ورځې راهیسې د صهیونیست رژیم د پوستو پر



وړاندې ځانګړي عملیات پیل کړي دي. داسې عملیات چې د اشغال په ۷۵ کلن تاریخ کې بې سارې وو او صهیونیستان یې حیران کړل.

## ایران پر اسرائیلو وروستیو بریدونو کې لاس لرل رد کړل

په ملګرو ملتونو کې د ایران استازولۍ د یو بیان په خپرولو سره ویلي، چې تهران په کلکه د فلسطین ملاتړ کوي، خو پر اسرائیلو د حماس ډلې له لوري وروستیو ناڅاپي بریدونو کې لاس نه لري.بیان کې راغلي، چې دغه بریدونه حماس ډلې په خپله پلان کړي او ټول مسئولیت یې همدې ډلې ته ورګرځي.ورته وخت کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د فلسطین او اسرائیلو ترمنځ د وروستیو نښتو په اړه د بندو دروازو تر شا ناسته کړې، خو غړي یې کومې پایلې ته نه دي رسېدلي.د راپورونو له مخې امریکا په دې ناسته کې د حماس ډلې د وروستیو بریدونو د محکومېدو غوښتنه کړې خو نورو غړو هېوادونو د واشنګټن دغه غوښتنه رد کړې او له همدې امله دغه ناسته بې پایلې پای ته رسېدلې ده.



### کاکړ:

# هغه افغانان چې قانوني اسناد لري له پاکستان څخه نه ایستل کېږي

د پاکستان د سرپرست حکومت لومړي وزیر انوارالحق کاکړ ویلي: په پاکستان کې درې برخې کډوال اوسېږي او د افغانانو په ګډون هغه کډوال ،چې قانوني اسناد لري هغوی به له پاکستانه نه ایستل کېږي. نوموړي ویلي د یو اعشاریه اته میلیونه اسناد لرونکو افغان کډوالو د ایستلو په اړه یې هېڅ خبره نه ده کړې. نوموړي ویلي، د بې اسنادو وګړو کډوال به په عزت سره له پاکستانه وباسي. کاکړ د خپلو خبرو پر مهال ویلي، یوه بله ډله کډوالو بیا ثبت ادارې له لوري به دغه ډول کډوال وپېژندل شي او بېرته به



د پاکستان شناخت کارتونه جوړ کړی، چې د پاکستان د وګړو د خپلو هیوادونو ته ستانه شي. درې اوونې وړاندې **۵مخ**

### اوچا:

# د هرات زلزله ځپلو سیمو کې د ژغورنې او لټون عملیات روان دي

د ملګر وملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر اوچا په هرات ولایت کې د زلزلې په اړه په یو تازه راپور کې ویلي، چې لا هم ددغه ولایت د زنده جان ولسوالۍ په زلزله ځپلو سیمو کې د مختلفو سکتورونو د چټکې ارزونې د ټیمونو له خواد ژغورنې او لټون عملیات روان دي. اوچا په هرات کې د زلزلې په اړه په یو راپور کې ویلي، چې په زنده جان ولسوالۍ کې زلزله



ځپلو سیمو کې کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي . ۱۶۶۳ کورنیو ته چې د غړو شمېر یې یوولس زره او ۵۸۵ تنو ته رسېږي زیان رسیدلی دی.

# د ننګرهار د کانال ۲۰۰۰ جریبه غصب شوې ځمکه بېرته تر لاسه شوه

د ننګرهار د کانال رئیس مولوي غلام الرحمن کاظم وایي، په تېرو دوو کلونو کې یې د ننګرهار د کانال اړوند دوه زره جریبه ځمکه چې د تېر حکومت پر مهال غصب شوې وه، بېرته ترلاسه کړې ده.د ننګرهار ولایت د رسنیو دفتر په یوه راپور کې ویلي ، چې په تېر حکومت کې د زورواکو له خوا د ا ځمکې غصب شوې وې.د دغه راپور له مخې اوس دغه ځمکې د ننګرهار د کانال په چوکاټ کې په کرنیزو برخو کې کارول کېږي. ښاغلي کاظم زیاتوي، چې دا مهال د ننګرهار د کانال د پاتې ځمکو د خلاصون لپاره پلټنې روانې دي چې په نږدې راتلونکي کې به له کانال سره وصل شي.په همدې حال کې د اسلامي امارت د رهبرۍ له خوا د ځمکو د غصب د مخنیوي د کمیسیون له جوړېدو وروسته په ټول هیواد کې لسګونه زره جریبه ځمکه له غصب څخه ژغورل شوې ده.

# له حیرتان بندرڅخه دوه واګونه بې کیفیته تېل بېرته ازبیکستان ته ګرځول شوي

د حیرتانو بندر مسئولین وایي، چې په دغه بندر کې دوه واګونه چې څه باندې ۱۰۰ ټنه پټرول کېږي بېرته ازبیکستان ته ګرځول شوي دي. د بلخ د نورم او سټنډرډ آمر وایي، چې ۲ واګونه پټرول تېل، چې ۱۰۳ ټنه او ۵۸۰ کیلوګرامه کېږي، بېرته د حیرتانو بندر له لارې ازبیکستان ته ګرځول شوي دي. نوموړي زیاته کړه، چې دغه پټرول د نورم او سټنډرډ آمریت په لابراتوارونو کې له چک وروسته د افغانستان د نفتي توکو د نورم او سټنډرډ سره په ټکر کې او بې کیفیته ثابت شول، چې



وروسته د حیرتانو بندر له لارې ازبیکستان ته وګرځول شول. باید وویل شي، چې له دې وړاندې هم په دغه بندر کې لسګونه ټنه بې کیفیته تېل ازبیکستان ته ګرځول شوي دي.